


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۳٦ | مسلسل نمبر: ۱۲٦

پنجشنبه، د جمادی الثانی ۲۰مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## کابل او تهران د درملو او طبي وسايلو د توليد په برخه کې همکارۍ پراخوي



۲ صفحه

## د ماليې وزارت او ډي پي ورلډ شرکت ترمنځ د پانګونې شرطپاڼه لاسليک شوه



۲مه صفحه

## د کاني موادو د کيفيت معلوملو لپاره د پرمختللو لابراتوارونو جوړېدل د تاييد وړ وبلل شول



۳مه صفحه

## سرليکنه



افغانستان د خپل ځانګړي جغرافيايي موقعيت له مخې د سيمې د درېيو اقتصادي، کلتوري او جيوپولتيکو حوزو په منځ کې پروت دی. په سويل او ختيځ کې سويلي اسيا، په شمال کې مرکزي اسيا او لويديځ کې يې ايران دی. له همدې امله افغانستان دا درې واړه حوزې يو له بل سره تړلې دي. دې چارې د افغانستان د سوداګرۍ له پاره ښه فرصت برابر کړی دی. کولای شي د اسيا په څلور لارې بدل او د سيمې د هېوادونو ترځنګ نړيوالو بازارونو ته هم لار ومومي. د سوداګرۍ د پراختيا له پاره که ځمکنۍ لارې، ريل پټلۍ او هوايي دهليزونه مهم دي، ترڅنګ يې بايد د هېواد سوداګريز بندرونه هم په معياري ډول ورغول شي، ترڅو په نړيوالو معيارونو برابره سوداګري ترسره او د سوداګرۍ له پاره د پام وړ اسانتياوې رامنځته شي. ځکه په اوس وخت کې بندرونه د نړيوالې سوداګرۍ او د هېوادونو د اتصال له پاره حياتي ارزښت لري. دغه بندرونه د توکو د خوندي کولو، پانګونې او کاري فرصتونو له پاره لار هواروي او د هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو همکاريو د رامنځته کېدو لامل ګرځي. همدا اوس افغانستان د سمندر لکه چابهار او ځمکنيو بندرونو له لارې له نړۍ سره اړيکي لري او له همدې لارې خپل صادرات او واردات ترسره کوي.


اسلامي امارت د سوداګريزو بندرونو اهميت ته په کتو د دې بندرونو د عصري کولو او په نوې ټکنالوژۍ د سمبالښت په موخه له ډي پي ورلډ نړيوال شرکت سره د پانګونې شرطپاڼه لاسليک کړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د دفتر عمومي رئيس مفتي عبدالله عزام په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو ته وويل، دغه شرطپاڼه به هغو تړونونو او بهرنۍ پانګونې ته لار هواره کړي، چې له مخې به يې د هېواد سوداګريز بندرونه عصري او په نوې ټکنالوژۍ سمبال شي. د دې شرطپاڼې پر بنسټ به په لومړي پړاو کې د افغانستان او ازبيکستان ترمنځ د حيرتان بندر په دوهم پړاو کې به د افغانستان او پاکستان د فرضي کرښې پر سر د تورخم بندر په عصري وسايلو سمبال او زېربنايي چارې به يې د نړيوالو معيارونو سره سمې عيارې شي. ورپسې به دا لړۍ د هېواد نورو لوژستيکي ليکو، اقتصادي زونونو او ملي پروژو ته پراختيا پيدا کړي.

په اوسنۍ نړۍ او نړيوال اقتصاد کې ازاد اقتصادي زونونه د سوداګرۍ په پراختيا، پانګونې او اقتصادي وده کې اساسي رول لري. دا زونونه هغه ځانګړې اقتصادي سيمې دي چې د سوداګرۍ، صنعت او ټکنالوژۍ د پرمختګ له پاره ځانګړې اسانتياوې، معافيتونه او د پانګونې د جلب ځانګړي شرايط لري.

د سوداګريزو بندرونو په عصري کېدو او د اقتصادي زونونو، لوژيستکي ليکو او ملي پروژو په برخه کې به دغه پانګونه وکولای شي، چې د بهرنۍ پانګونې له پاره لار هواره او د هېواد سوداګري، صنعت، زيربناوې او دې ته ورته نورې برخې په پښو ودروي. د دې برخو په پياوړتيا او پرمختګ سره به د هېواد اقتصادي خوځښت لا پياوړی او غښتلی شي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اوونيزه ابادي
هفته‌نامه آبادی

## کابل او تهران د درملو او طبي وسايلو د توليد په برخه کې همکارۍ پراخوي



د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د قوس مياشـــتې په ۱۲مه نېټه په خپـــل کاري دفتر کې د ايـــران د روغتيا وزارت مرســـتيال او د خوړو او درملو اداري له رييس مهدي پير صالحي او په افغانســـتان کې د ايران له سفير علي رضا بيکدلي سره وکتل.

د ليدنـــې پرمهال د ايران د روغتيا وزارت مرســـتيال وويل، ايران چمتو دی چې له افغانستان سره د درملو او طبي وسايلو د توليد او افغانستان ته يې د صادراتو د زياتوالي پـــه برخه کې خپلې همکارۍ د اوږدمهال لپاره پراخـــې کـــړي. د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال له ايراني لوري مننه وکړه او ډاډ يې ورکړ، چې په يادو برخو کې به د افغانستان اسلامي امارت اړوندې ادارې ورسره پوره همکاري او ګډ کار وکړي.

## د ماليـې وزارت او ډي پي ورلـــډ شرکت ترمنځ د پانګونې شرطپاڼه لاسليک شوه

د ماليـــې وزارت او ډي پي ورلډ شرکت ترمنځ د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د قوس مياشـــتې پـــه ۱٦مه نېټه د رياست‌الوزراء په اقتصادي معاونيت کې د پانګونې شرطپاڼه لاسليک شوه. د رياســـت‌الوزراء اقتصادي معاونيت د دفتر عمومي رييس مفتي عبدالله عزام په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وويل، دغه



شرطپاڼه به هغـــو ترونونو او بهرنـــۍ پانګونې ته لار هواره کړي، چې له مخې به يې د هېواد ســـوداګريز بندرونـــه عصري او په نوې ټکنالوژۍ ســـمبال شي. ښـــاغلي عزام زياته کړه، د يادې شرطپاڼې په رڼا کې به راتلونکي ترونونه د دې ورتيا ولري، چې په اړوندو بندرونـــو کې د ســـوداګريزو توکـــو د انتقـــال لپاره تاسيســـات پراخ، عملياتي او مديريتـــي چارې به د پرمختللـــو تجهيزاتو پر مټ ترسره او ټول فعاليتونه به د نړيوالو معيارونو مطابق ترسره کېږي.

د دې شرطپاڼې پر بنســـټ به په لومـــړي پړاو کې د افغانســـتان او ازبېکســـتان ترمنځ د حيرتان بندر په دوهم پړاو کې به د افغانســـتان او پاکستان د فرضي کرښې پر سر د تورخم بندر په عصري وسايلو سمبال او زېربنايي چارې به يې د نړيوالو معيارونو سره سمې عيـــارې شي. ورپســـې به دا لـــړۍ د هېـــواد نورو لوژســـتيکي ليکو، اقتصادي زونونو او ملي پروژو ته پراختيا پيدا کړي.

## د کاني موادو د کيفيت معلومولو لپاره د پرمختللو لابراتوارونو جوړېدل د تاييد وړ وبلل شول



د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د قوس مياشتې په ۱۷مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شـــوه. غونډې تـــه د کانونو او پټروليـــم وزارت له لوري په کابل او ولايتونو کې د کاني موادو د کيفيـــت معلومولو لپاره د پرمختللو لابراتوارونو د جوړېدو موضوع د بحث لپاره وړاندې شـــوه. له هراړخيز بحث وروسته ياده موضوع د تاييد وړ وبلل شوه او د نهايي تصميم په موخه اقتصادي کمېســـيون ته راجع شوه. د دغه لابراتوارونو لپاره ۲۳۳ ميليونه افغانۍ بوديجه په پام کې نيول شـــوې، چـــې ۱۵ ميليونه افغانـــۍ به يې په ساختماني چارو او۲۱۸ ميليونه افغانۍ به يې په پرمختللو او په نوې ټکنالوژۍ ســـمبال تجهيزاتـــو ولګول شي. همداراز په دې غونډه کې پر يوشمېر نورو موضوعاتو هم بحث وشو او په اړه يې لازم تصاميم ونيول شول.

# اخبـــــار اقتصـــادی هفـــــته

## دستاوردهای بانک مرکزی افغانستان همزمان با روز جهانی بانک‌ها

همزمـــان با روز جهانـــی بانک‌ها، بانک مرکزی افغانســـتان از دستاوردهای چشم‌گیر در بخش بانکی طی چهار سال اخیر خبر می‌دهد. مسؤلین بانک مرکزی می‌گوید که هم‌اکنون ۱۲ بانک فعال در کشور فعالیت دارند و سیستم بانکی افغانستان با بیش از ۲۰۰ بانک بین‌المللی در ارتباط است؛ موضوعی که زمینه انتقال سریع، مطمئن و منظم پول‌های بین‌المللی را فراهم کرده است. مسؤلین بانک مرکزی افغانستان، در این باره افزود: «در سکتور بانکی سطح برداشت امانت‌های بانکی در حال افزایش است و نسبت به سال‌های گذشـــته افزایش و محدودیت‌ها نیز کاهش یافته اســـت.» برخی از هموطنان فعالیت بانک‌ها را در افزایش سهولت‌های مالی موثر دانسته و تاکید دارند که بانک مرکزی باید سهولت‌های بیشتری برای مردم فراهم کند. سمیع‌الله، باشنده‌ی کابل، گفت: «بانک‌ها اهمیت بسیار زیادی دارند، سهولت‌ها را برای مردم فراهم می‌کنند و می‌توانیم از طریق بانک‌ها پول خود را حفظ و از یک کشـــور به کشـــور دیگر منتقل کنیم.» برخی از آگاهان اقتصادی نیز نقش بانک‌ها را در توسعه اقتصاد کشور، جذب سرمایه‌گذاری، ایجاد فرصت‌های کاری و افزایش عواید ملی مهم می‌دانند و تاکید دارند که برای تقویت بیشتر سیســـتم بانکی، همکاری‌های جهانی و توجه ویژه بانک جهانی ضروری است. عبدالغفار نظامی، آگاه اقتصادی، تاکید کرد: «بانک‌داری در افغانستان وسیع و بدون محدودیت است، اما به دلیل مسائل سیاسی مشکلات اندکی مانند مسدود شدن دارایی‌های کشور از سوی جهان وجود دارد.» روز جهانی بانک‌ها نخستین‌بار در سال ۲۰۱۹ از ســـوی سازمان ملل متحد نام‌گذاری شد. هدف از این روز برجسته‌سازی نقش بانک‌ها در توسعه اقتصادی، تامین مالی پروژه‌هـــای پایدار، گسترش همکاری‌هـــای بین‌المللی و ارتقای سطح زندگی مردم جهان است.

## افزایش تلاش‌ها برای حفاظت از جنگلات در کشور

با افزایش خشکســـالی و تهدیدهای ناشی از کاهش جنگلات، وزارت زراعـــت، آبیـــاری و مالداری می‌گوید کـــه پس از روی کارآمدن دوبارهٔ امـــارت اسلامی، اقدامات گـــسترده‌ای برای حفاظت از جنـــگلات و مقابله با قاچاق و قطـــع غیرقانونی در سراسر کشـــور روی‌دســـت گرفته شده اســـت. به گفته‌ی این وزارت، هم‌اکنـــون نزدیـــک بـــه دو میلیون هکتـــار از خاک افغانســـتان تحت پوشـــش جنگلات قرار دارد که بیش از ۲.۸ درصد مساحت کل کشور را شامل می‌شود. وزارت زراعت، آبیـــاری و مالداری، در این باره تاکید دارد که: «در چند ســـال اخیر، به‌منظور سرســـبزی و گسترش ساحات سبز، بیش از صد میلیون نهال و قلمه غرس شده و در سال جاری نیز ۱۶ میلیون نهال دیگر کاشـــت شده است.» برخی از فعالان عرصه محیط زیست نیز تاکید دارند که سیاست‌های درست در بخش حفاظت از جنگلات می‌تواند نقش مهمی در افزایش ســـاحات ســـبز، کاهش اثـــرات تغییـــرات اقلیمی، جلوگیری از ســـیلاب‌های ویرانگر و افزایش عواید ملی ایفا کند. سیدمحمد سلیمان‌خیل، آگاه محیط زیســـت، در این باره گفت: «جنگلات یک منبع و همکار بسیار مهم انسان‌ها در مقابله با تغییرات اقلیمی است و اکنون که زمینه قاچاق تا حدی گرفته شده، فرصت فراهم شده اســـت که دولت و نهادهای دیگر برای احیای جنگلات تلاش کنند.» وزارت زراعت هم‌چنین اعلام کرده است که انجمن‌های محلی و گروه‌های «قطعه ســـبز» برای نظارت و مشارکت مردم در حفاظت از جنگلات تشکیل شده‌اند و با اجرای این برنامه‌ها، همکاری جامعـــهٔ محلی نقش کلیـــدی در موفقیت پروژه‌های محیط زیستی دارد.


ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

# روز جهانی هوانوردی ملکی؛ گسترش پروازهای بین‌المللی در افغانستان

همزمان با روز جهانی فعالیت‌های هوانوردی ملکی، وزارت ترانسپورت و هوانوردی امارت اسلامی افغانستان اعلام کرده که طی چهار سال گذشته اقدام‌های گسترده‌ای برای عصری‌سازی این بخش و ارایه تسهیلات سفر امن انجام داده است. به گفته‌ی مسؤلین این وزارت، در حال حاضر از طریق پنج میدان هوایی بین المللی افغانستان، پروازهای مستقیم با ۱۵ کشور و شهرهای بزرگ منطقه، همسایه و جهان برقرار است. وزارت ترانسپورت و هوانوردی، در این باره گفته: «وزارت ترانسپورت ۲۷ میدان هوایی دارد که پنج مورد آن بین‌المللی و دیگر آن داخلی است. به همین منظور، این وزارت کارهای مهمی انجام داده و در بخش توسعه‌ی میدان‌ها، در کنار میدان‌های بین‌المللی، روی میدان‌های داخلی نیز کار کرده است.» وزارت ترانسپورت می‌افزاید که برای افزایش سهولت‌ها در بخش هوایی، بیش از ۵۰ پروژه در جریان است و برخی از آن‌ها تکمیل شده‌اند. برخی از آگاهان اقتصادی با اشاره به اهمیت بخش هوانوردی، تأکید دارند که توسعه‌ی این بخش، به ویژه دهلیزهای هوایی، می‌تواند به رشد صنعت، تجارت و اقتصاد کشور کمک چشم‌گیری کند. عبدالظهور مدبر، آگاه اقتصادی، در این باره می‌گوید: «در کنار این‌که ما از راه‌های آبی، خطوط آهن و راه‌های جاده‌ای استفاده می‌کنیم، برخی کالاها ارزش بیشتر و قابلیت فسادپذیری بالاتر دارند که می‌توان از خطوط هوایی برای انتقال آن‌ها استفاده کرد.» قطب‌الدین یعقوبی، آگاه دیگر اقتصادی، نیز می‌افزاید: «انتقالات از طریق خطوط هوایی در جهان امروزی کاربرد گسترده دارد و توسعه‌ی این بخش می‌تواند ارزش بسیار زیادی ایجاد کرده و بر موثریت انتقال کالاها نقش مهمی داشته باشد.» روز جهانی فعالیت‌های هوانوردی ملکی هر سال در هفتم دسمبر، به هدف افزایش آگاهی از اهمیت هوانوردی ملکی در توسعه‌ی اقتصادی، اتصال جهانی و ارتقای امنیت هوایی، از سوی سازمان جهانی هوانوردی ملکی (آی‌سی ای او) گرامی داشته می‌شود.




# د بانکوالۍ په سکتور کې د اسلامي امارت پرمختګونه

فضل ولي شیراني

## سریزه

که نن ورځ د نړۍ نورو پرمختګونو ته وګورو وبه وینو چې د ژوند په بېلا بېلو برخو کې څومره اسانتیاوې رامنځته شوې دي. له دې برخو څخه یوه هم د پولي معاملو برخه ده. په دې برخه کې هم زیاتې اسانتیاوې منځته راغلي دي او دا هر څه د بانکوالۍ په برکت ترسره شوي دي. بانک یوازې د دې له پاره نه دی چې پیسې پکې خوندي شي، بلکې له دې لارې کولای شو په ډېره اسانۍ سره خپلې ټولې پولي معاملې ترسره او په کار روزګار کې مو هم کوم خنډ رامنځته نه شي. دغه راز که د نړۍ پرمختللو هېوادونو ته وګورو د هغو په اقتصادي پرمختګ کې تر ډېره بریده بانکي سیستم رول لوبولی دی. اسلامي امارت هم بانکي سکتور ته پوره پاملرنه کړې ده. د اسلامي امارت د راتګ په لومړیو ورځو کې په بانکي سیستم کې چې کومې ستونزې وې، اوسمهال یې زیاتره له منځه تللې او دا لړۍ لا هم روانه ده. په دې سکتور کې په دې تېرو څلورو کلونو کې ډېر پرمختګونه شوي دي. له هغو څخه کولای شو یو ستر پرمختګ ته یې اشاره وکړو چې اوسمهال د افغانستان بانکي سیستم له ۲۰۰ څخه زیاتو نړیوالو بانکونو سره تړل شوی دی. په دې لیکنه کې مو په دې سکتور کې په لاندې ډول ترسره شویو پرمختګونو ته په اجمالي ډول اشاره کړې ده.

## د بانکوالۍ په سکتور کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې

سره له دې چې کله د کابل تیره اداره ړنګه او اسلامي امارت واک ته ورسېد په ټول هېواد کې امنیت ټینګ او د فساد مخه ونیول شوه، خو سره له دې په ځینو برخو کې ستونزې رامنځته شوې. د دې ستونزو اصلي لامل ټولو ته معلوم دی او هغه د نړیوالو له لوري د افغانستان د بانکي پشتوانې ګنګل کېدل و. دې موضوع د افغانستان اقتصادي وضعیت ته جدي زیان ورساوه او د صنعت کارانو او پانګوالو فعالیتونه یې له ستونزو سره مخ کړل. ولې اسلامي امارت د خپل مدبرانه پولي سیاست په غوره کولو سره د بانکي سیستم په برخه کې شته ستونزې تر ډېره بریده کابو کړې او اوسمهال په دې برخه کې تر ډېره بریده پرمختګ شوی او لا هم هڅې روانې دي چې په بانکي سیستم کې شته ټولو ستونزو ته پای ورکړل شي. په دې برخه کې د بانکي سکتور د ستونزو د هوارۍ په موخه د مالي ثبات کمیټه جوړه شوه چې مشري یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي. د دې کمیټې دندې د مالي سیستم په اړه د افغانستان بانک لخوا د وړاندې شویو راپورونو کتنه، د هېواد مالي ثبات پر وړاندې د پرتو مالي کړکېچونو د مدیریت او له منځه وړلو په تړاو د اړینو اقداماتو ترسره کول او د هېواد د نافذه قوانینو او د نړیوالو منل شویو معیارونو په پام کې نیولو سره د کمیټې د کاري کړنلارو او پالیسیو چمتو کول دي. د دې ترڅنګ اسلامي امارت تر دې مهاله په بانکي سکتور کې ځینې نورو ستونزو ته هم پای ورکړی دی. اوسمهال د هېواد په لرې پرتو سیمو کې بانکي خدمتونه وړاندې کېږي، په ټول هېواد کې راکړه ورکړه په افغانیو ترسره کېږي او د بهرنیو اسعارو مخه نیول

ABAADI ONLINE WEEKLY

اباديـ اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه



شوې. د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت لوړ شوی او دغه راز د افغانيو بانکنوټونه چاپ او په بدل کې يې له بازار څخه د افغانيو زاړه او له کاره لويدلي بانکنوټونه وخت پر وخت راغونډ او سوځول کېږي. په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ د رامنځته کېدو له پاره کار روان دی. کوم پخواني تضمينات، طلبات او تامينات چې و، هغه ورکړل شوي دي. د ادراینو او معلوماتي ټکنالوژۍ سيستمونو ته پراختيا ورکړل شوې. د بانکونو د مشتريانو پر امانتونو محدوديتونه راکم شوي او په خصوصي بانکونو کې د نغدينګۍ ستونزې حل شوې دي. همداراز د کوچنيو پورونو د نهادونو له پاره د افغانستان بانک له خوا مقرره چمتو او په محاکمو کې مالي قضيو ته لومړيتوب ورکړل شوی دی. د دې په خوا کې د بانکونو د پياوړتيا او تقويې په موخه پر بانکونو د امارتي کارکوونکو د معاشونو حسابونه ويشل شوي او عوايد د بانکونو له لارې راغونډيږي. د دې چارو په ترسره کېدو سره ورځ تر بلې پر بانکونو د هېوادوالو د باور کچه لوړه او په بانکي سکتور کې شته ستونزې سوکه سوکه مخ په کمېدو دي. اوسمهال د بانکونو له نړيوالې ورځې سره سم ، د افغانستان بانک د دغه بانک د لاسته راوړنو خبر ورکوي. د افغانستان بانک له لوري په خپاره شويو معلوماتو کې راغلي دي چې دا مهال په هېواد کې ۱۲ بانکونه فعاليت کوي او د افغانستان بانکي سيستم له ۲۰۰ څخه زياتو نړيوالو بانکونو سره اړيکه لري؛ هغه څه چې د نړيوالو پيسو د خوندي، منظم او چټک لېږد لپاره يې زمينه برابره کړې ده. په بانکي سکتور کې د بانکي امانتونو د ايستلو کچه نوره هم د زياتېدو په حال کې ده او د تېرو کلونو په پرتله لوړه شوې ده؛ همداراز محدوديتونه هم کم شوي دي. دا په دې تيرو څلورو کلونو کې د بانکوالۍ په سکتور کې د اسلامي امارت پرمختګونه په ګوته کوي. که چيرې د بانکوالۍ سکتور همداسې د پرمختګ پړاوونه طی کړي، نو موږ به پر دې وتوانيږو چې اقتصادي ودې، د پانګې جذب، کاري فرصتونو رامنځته کولواو عوايدو لوړولو ته لار هواره کړو.

## پايله

د افغانستان د بانکي ستونزو د بشپړ حل په موخه په کار ده چې په اوسني وخت کې د افغانستان د بانکونو د تغذيې له پاره د شته سرچينو ترڅنګ نوې سرچينې هم پيدا شي. د بانکي اعتبار له پاره کره پروګرامونه خلکو ته وړاندې شي. که چيرې سترې اقتصادي پروژې طرح او پلي شي چې اوس يې ځينې رواني دي او بهرنۍ پانګه راجلب شي، نو له دې سره به له يوه لوري پر بانکي سکتور د خلکو باور لا زيات شي او له بل لوري به اقتصادي څرخ په حرکت راشي. اسلامي امارت له پيل څخه د بانکي سيستم د پياوړتيا او پرمختګ له پاره خپل پلانونه درلودل او په عملي کېدو سره يې تر ډېره بريده په دې سکتور کې اسانتياوې رامنځته شوې او ډېرى هغو ستونزو ته چې د بهرنيانو له لوري د لګول شويو بنديزونو له امله رامنځته شوې وې، له منځه تللې دي. دا مهاله د بانکوالۍ په برخه کې ډېر نور پرمختګونه هم رامنځته شوي دي. په دې سره به په هېواد کې د بانکوالۍ سکتور لا پياوړی او اقتصادي وده به ورسره ګړندۍ شي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۶۶,۲۰ | ؋۶۶,۲۳ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲۲۷ | ؋۲۲۷ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۰,۵۲ | ۰,۵۳ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۷,۱۱ | ؋۷۷,۱۵ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۶ | ؋۰,۸۷ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۷۳۶ | ؋۷۳۶ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۸۸,۲۷ | ؋۸۸,۳۱ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۷,۶۴ | ؋۱۷,۶۵ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۸,۰۳ | ؋۱۸,۰۳ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۳۶ | ؋۹,۳۷ |

